قرآني بيان

د يتيمانو والي [پالونکے]

د مدني مرکزونو (فيضان مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 4 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 21 ربيع الاول، کال 1448ھ)

د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 4 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 21 ربيع الاول، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

د يتيمانو والي [پالونکے]

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د کائنات د ټولو نه بهترين زړونه
- د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهري کمالات
- د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جسماني کمالات
- د نورو مبارکو اندامونو معجزې

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمہ**: ما د سُنّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روایت دے، کله چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والِد محترم حضرت عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفات شو نو فرښتو د الله پاک پۀ دربار کښې عرض اوکړو: اے الله پاکه! ستا نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بغېر د پلار نه پاتې شو- رَبِّ کریم وفرمائیل: اَنَالَهٗ حَافِظٌ وَنَصِيْرٌ اے زما فرښتو! هغه زما محبوب دے، د هغوئ حفاظت کوونکے هم زۀ یم، د هغوئ مددګار هم زۀ یم- [1] **پۀ یو روایت کښې دي:** الله پاک وفرمائیل: اَنَاوَلِيُّهٗ وَحَافِظُهٗ وَحَامِيْهٖ وَرَبُّهٗ وَعَوْنُهٗ وَرَازِقُهٗ وَكَافِيْهٖ یعني اے زما فرښتو! هغه زما محبوب دے، هم زۀ د هغوئ پالونکے یم، هم زۀ د هغوئ محافظ یم، هم زۀ د هغوئ ملګرے یم، هم زۀ د هغوئ رَبّ یم، هم زۀ د هغوئ مددګار یم، هم زۀ د هغوئ رازِق یم او هم زۀ د هغوئ د پاره هر قِسمه کافي یم فَصَلُّوْا عَلَيْهِ وَتَبَرَّكُوْا بِاسْمِهٖ یعني اے فرښتو! تاسو زما پۀ محبوب باندې درود لېږئ او د هغوئ د نوم مبارک برکتونه حاصلوئ--!! [2]

1... مواہب لدنیہ، المقصد الاول، آیات حملہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحہ:64۔

2... شرح الزرقانی، المقصد الاول، ذکر تزوج عبد اللہ آمنۃ، جلد:1، صفحہ:207۔

دست بستہ سب فرشتے پڑھتے ہیں اُن پر دُرود
کیوں نہ ہو پھر وِرد اپنا اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام
مومنو پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر دُرود
ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰى ۪ۙ (پاره: 30، سورۃ الضحیٰ: 6)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم۔

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آیا هغۂ تۂ یتیم وه نۂ موندلې بیا یې ځائے درکړو۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تېره جُمعه مونږ د سورۂ وَالضّحیٰ د آیت: 5 او د هغې د څۂ وضاحت او تفصیل اورېدو سعادت حاصل کړے وو، په کوم کښې چې دا بیان وو چې د الله رَبُّ العِزَّت د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بے حده محبت دے، دومره محبت دے چې هٰغه رَبُّ الْعٰلَمِین په هره معامله کښې د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا غواړي او دا رضا رَبِّ کائنات ته داسې مطلوب ده چې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوښه پوره کولو کښې ډېره تادي فرمائي- اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څۂ ښکلي وئیلي دي:

خُدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خُدا چاہتا ہے رضائے مُحَمَّد(2)

1... قبالۂ بخشش، صفحہ:164۔

2... حدائقِ بخشش، صفحہ:65۔

د غېر مسلمو پۀ دِماغو کښې خَبط (يعنې فاسِد خيال) وو، هغوئ وئيل چې هم پۀ مونږ کښې زمونږ پۀ شان اِنسان اخر د نبوت درجې ته څنګه رسېدے شي--؟ دا د هغوئ د فاسِد خيال يو عِلاج دے چې محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو پۀ شان هيڅکله نۀ دے بلکې تاسو څۀ--!! پۀ مخلوق کښې څوک هم د هغوئ پۀ مِثل نشته، د ټول مخلوق حالت دا دے چې ټول د الله پاک رضا غواړي او د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا دے چې د الله پاک د هغوئ رضا خوښه ده-

مصطفےٰ ہیں ساری خلقت کے لیے | ساری خلقت ہے برائے مصطفےٰ
ڈھونڈتے ہیں سب رِضا اللہ کی | چاہتا ہے حق رِضائے مصطفےٰ[1]

د آيت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې او پۀ نورو ټولو مخلوقاتو کښې څۀ فرق دے، رَبِّ کائنات دلته د دې درې نور مثالونه ذِکر کړي دي، دلته ذِکر دا دے چې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان څوک هم نشته، هغوئ پۀ خپل هر کمال کښې ځانګړے او بے مثاله دے خو کوم چې د کلام مخه ده هغه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته ده، يعنې الله پاک مخلوق ته دا نۀ دي وئيلي چې زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د داسې شان والا دے بلکې هم د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ مُخاطَب کولو فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا ستاسو داسې داسې شانونه نۀ دي--؟ آيا ستاسو رَبِّ کريم تاسو ته داسې داسې اوچت مقامونه نۀ دي عطا کړي- ضرور يې عطا کړي دي-

سب سے بڑھ کر فضل تیرا اے کریم! | ہے وجودِ اقدسِ خیرُ الوَرا
ہر کرم کی وجہ یہ فضلِ عظیم | صدقہ ہیں سب نعمتیں اِس فضل کا[2]

1... قبالۀ بخشش، صفحه:80۔
2... ذوقِ نعت، صفحه:312و 313۔

دا د دې آيتونو مبارکو يو اُسلُوب دے کوم چې ما ستاسو پۂ خِدمت کښې عرض کړل، راځئ چې اوس د آيت مبارک، د هغې وضاحت او د هغې نه معلومېدونکي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانونه واورو- الله پاک فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۪ۙ

(پارہ:30، سورۂ الضحیٰ:6)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آيا هغۂ تۂ يتيم وه نۂ موندلې بيا يې ځائے درکړو-

د آيت مبارک د ذوق نه ډک وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۂ آيت مبارک کښې د يتيم لفظ معنیٰ او مطلب څۂ دے؟ دا يو پوره بحث دے، دې اړخ ته مونږ بيا راځو، وړومبے لږ وګورئ چې رَبِّ رحمان د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څومره پۂ ښکلي انداز سره د محبت اِظهار فرمائي، خپل ذوق اِيماني لږ تازه کړئ او پۂ دې انداز باندې غور اوکړئ! الله پاک پۂ خپل محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې يو اِنعام فرمائيلے وو، پۂ دې آيت کښې د هٰغه اِنعام ذِکر کيږي- اوس معامله دا ده چې کله اِنعام او اِحسان چا ته ور يادولے شي نو د هغې دوه مقصدونه وي: (1): چا ته اِنعام دې د پاره ور يادولے شي چې هغه اِحسان اومني او تابعداري اِختيار کړي- لکه څنګه چې الله پاک پۂ سورۂ رحمان کښې بيا بيا فرمائيلي دي:

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝

(پارہ:27، سورۂ رحمٰن:16)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو (اے پيريانو او اِنسانانو!) تاسو دواړه به د خپل رَبّ کوم کوم نِعمتونه دروغ ګڼئ؟

پۂ سورۂ واقعه کښې فرمائي:

نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ۝

(پارہ:27، سورۂ واقعه:57)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مونږ تاسو پيدا کړلئ نو تاسو ولې رښتيا نۂ منئ؟

داسې پۀ قرآنِ کريم کښې پۀ ډېرو ځايونو کښې الله پاک مونږ اِنسانانو ته خپل اِحسانونه او اِنعامونه راياد کړي دي او فرمائيلي يې دي چې : د دې اِنعامونو شُکر ادا کړئ او زمونږه تابعداري اوکړئ! دا د قرآنِ کريم زمونږ د عامو اِنسانانو پۀ باره کښې اُسلُوب دې، مونږ ته اِحسان رايادولے کيږي د پاره د دې چې مونږ تابعداري اِختيار کړو-

(2): د اِحسان يادولو يو بَل مقصد وي او هغه وي تسلي ورکول- مخامخ ګس له تسلي ورکړے کيږي چې چا ستا د پاره مخکښې دومره هر څۀ کړي دي، هغه به نورې ښېګڼې ولې نۀ کوي- دا اُسلُوب دلته اِختيار کړے شو- معامله دا وه چې يو څو ورځې وحي نۀ وه راغلې، د رسولِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړۀ مبارک خفه وو، غېر مسلمو د مکے مکرمې کافرانو هغې له غلط رنګ ورکولو، هغوي به وئيل: د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَبّ هغوئ پرېښودي دي- مَعَاذَالله!

پۀ دې باندې الله پاک سُورۀ والضُّحیٰ نازله کړو [1] او پۀ دې کښې دا اِحسانونه ياد کړے شول، فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۪ (پاره: 30، سورۀ الضحیٰ:6)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: آيا هغۀ تۀ يتيم وه نۀ موندلې بيا يې ځائے درکړو-

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ (پاره: 30، سورۀ الضحیٰ:7)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغۀ تۀ پۀ خپله مينه کښې ورک وموندلې نو خپل طرف ته يې لار درکړه-

وَ وَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ۪ (پاره: 30، سورۀ الضحیٰ:8)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغۀ تۀ حاجت مند وموندلې نو غني يې کړې-

---

1... تفسیر بغوی، پارہ:30، سورۂ ضحیٰ، جلد:4، صفحہ:631 خلاصۃً۔

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو رَبِّ کريم کوم چې مخکښې پۀ تاسو باندې داسې داسې اِحسانونه فرمائيلي دي، آيا هٰغه رَبِّ رحمان به تاسو پرېږدي، ستاسو نه به ناراضه شي--؟ نا--!! نا، داسې به هيڅکله نۀ کېږي، تاسو يقين ساتئ! تاسو خپل زړۀ پۀ سکون کړئ! ستاسو رَبّ همېشه ستاسو سره دے، لکه څنګه چې به يې مخکښې پۀ تاسو فرمائيل، داسې د اِنعامونو باران به پۀ تاسو باندې همېشه وريږي-

رَحمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن ہو، اور شَفِيْعُ الْمُذْنِبِيْن ہو

فَضلِ ربّ سے کیا نہیں ہو، بعد ربّ کے بس تمہیں ہو

يَانَبِی سَلَامٌ عَلَيْكَ يَا رَسُوْل سَلَامٌ عَلَيْكَ

يَاحَبِيْب سَلَامٌ عَلَيْكَ صَلَوٰةُ اللهِ عَلَيْكَ[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!! رَبِّ رحمان د هغوئ سره څومره محبت فرمائي، چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړۀ مبارک خفه شي، الله کريم ته دا هيڅکله هم منظور نۀ دي- ځکه خو مولانا حسن رضا خان صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي:

کسی کو کسی سے ہوئی ہے نہ ہوگی | خُدا کو ہے جتنی محبّت کسی کی

د يتيم لفظ 2 معنۍ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۪ۖ

(پارہ:30، سورۃ الضحیٰ:6)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: آيا هغۀ تۀ يتيم وه نۀ موندلې بيا يې ځائے درکړو-

---

1... وسائلِ بخشش، صفحہ:614۔

پۂ دې ځائے کښې د يتيم لفظ 2 معنې کېدے شي او د دې دواړو معنو پۂ لحاظ سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر ښکلي ښکلي شانونه ظاهرېږي:

د يتيم لفظ وړومبۍ معنىٰ او د هغې وضاحت

د يتيم لفظ وړومبۍ معنىٰ دا ده چې هٰغه ماشوم د چا د پېدا کېدو نه چې مخکښې يا وروستو د هغۂ پلار وفات شي، هغۂ ته يتيم وئيلے کيږي۔ (1)

پۂ روايتونو کښې دي: زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا ظاهري دُنيا ته تشريف نۂ وو راوړے، د سيده آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْها سره امانت وو چې د هغوئ والدِ محترم سيدنا عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تجارت د پاره د شام طرف ته روان شو، پۂ واپسۍ کښې مدينے منورې ته راورسېدو، دلته چې راغلو نو يو څو ورځې بيمار وو، بيا يې د دې فاني دُنيا نه رحلت وفرمائيلو۔ (2) د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والدِ محترم د هغوئ دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخکښې رخصت شوے وو، ځکه به د مکے بعضې خلقو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **يَتِيمُ عَبدِ الله** وئيلو۔

اهم وضاحت: دلته يوه خبره پۂ خاص طور پۂ خپل ذِهن کښې ساتئ چې علمائے کرامو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د يتيم وئيلو نه منع فرمائيلې ده، پۂ دې ځائے کښې هغوئ ته **دُرِّ يتيم** وئيل پکار دي، د دُرِّ يتيم معنىٰ ده: **بے مثاله لعل۔**

د والدِ محترم پۂ وفات کښې حِکمتونه

بهر حال! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۂ داسې حال کښې دُنيا ته تشريف راوړلو چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والد وفات شوے وو، پۂ دې کښې هم

1... تفسير جلالين مع حاشيه صاوی، پاره:30، سورۂ ضحیٰ، زيرِ آيت:6، جلد:3، جز:6، صفحه:291۔

2... سيرة حلبيه، باب وفاة والده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحه:74 ملتقطًا۔

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر زيات شانونه دي- حضرت اِمام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د اهلِ بيتِ پاک رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ډېر لوئي اِمام دے، د هغوئي پۀ خِدمت کښې پوښتنه وشوه: د محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والدِ محترم د هغوئي د پيدائش نه مخکښې وفات شوے وو، پۀ دې کښې څۀ حِکمت وو؟ وه يې فرمائيل: پۀ دې کښې حِکمت دا وو چې پۀ مخلوق کښې د چا حقونه هم د هغوئي پۀ ذِمه لازِم نۀ وي- (1)

يعنې اِنسان که هر څومره د اوچتې مرتبې والا وي، د مور او پلار حقونه خو پۀ هغۀ باندې لازم وي، که چرې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور او پلار پۀ دُنيا کښې تشريف فرما وے نو د هغوئي حقونه به پۀ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې لازم وو خو د رَبِّ رحمان غېرت دا خوښ نۀ کړل چې محبوب د هغۀ وي او پۀ هغوئي باندې د يو بنده حق لازم شي، ځکه الله پاک مور او پلار هم د مخکښې نه ځان ته وبلل د پاره د دې چې ټول مخلوق د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حقونه ادا کړي، پۀ هغوئي باندې د چا حق هم لازم نۀ وي-

يَا صَاحِبَ الْجَمَالِ وَيَا سَيِّدَ الْبَشَرِ

مِنْ وَجْهِكَ الْمُنِيْرِ لَقَدْ نُوِّرَ الْقَمَرُ

لَا يُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَا كَانَ حَقُّهٗ

بَعْدَ اَزْ خُدا بُزُرگ تُوئی قِصَّه مُخْتَصَرْ

ترجمه: اے د حُسن او جمال مالِکه! اے د مخلوق سرداره! ستاسو د نُوراني مخ نه پۀ فيض اخستو سپوږمۍ روښانه ده، لکه څنګه چې ستاسو حق دے هم هٰغه شان تعريف او صفت بيانول زمونږ د وَس خبره نۀ ده، لنډه خبره دا ده چې د رَبِّ کريم نه پس د ټولو نه زياته بزرګه هستي هم تاسو يۓ-

---

1... مواہب اللدنیہ، المقصد الاول، آیات حملہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحہ:64۔

ټول عزتونه د الله پاک له اړخه دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخکښې د هغوئ والدِ محترم وفات شو، پۀ دې کښې نور هم ډېر حِکمتونه دي: مثلاً ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يتيمانو پالونکے جوړ شو او تشريف يې راوړلو، ځکه يې خپل ماشومتوب مبارک هم پۀ داسې حالت کښې تېر کړو ❁ دلته عام طور داسې وي چې کله مونږ يو پوهه، سنجيده او با ادبه ماشوم وينو نو وئيلے کيږي چې مور او پلار د دۀ څومره ښکلے تربيت کړے دے ❁ څوک چې پۀ ښه کار کولو ووينو نو پوښتنه کوو: د چا ځوي يې؟ د فلانکي ځوي يم نو وايو: آؤ! داسې پۀ ادب اولاد هم د هغۀ کېدے شي۔

اوس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژوند مبارک ته وګورئ! پۀ ماشومتوب شريف کښې به د هغوئ د هرې ادا نه ښکلا ځلېدله، هر يو انداز يې ځانګړے او کمالي وو، د هغوئ پۀ هره طريقه کښې ادب وو، بيا داسې ممکن وو چې چا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګاني ليدلے وے او وئيلے يې وے چې دا د حضرت عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د تربيت وجه ده۔ حضرت آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْها د ځوي ډېر ښه تربيت کړے دے۔

د الله پاک غېرت دا هيڅکله نۀ خوښول، ځکه يې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور او پلار هم د مخکښې نه د ځان خوا له وبلل د پاره د دې چې ليدونکي پوهه شي چې د نبي کريم کمالي او بے مثاله انداز د ❁ نُوراني اداګاني ❁ ښکلي ښکلي اخلاق ❁ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور او پلار د تربيت وجه نۀ ده بلکې خاص د ربِ رحمان عطا ده۔ [1]

تِرے خُلق کو حق نے عظیم کہا، تِری خلق کو حق نے جمیل کیا
کوئی تجھ سا ہوا ہے نہ ہو گا شہا، تِرے خالقِ حُسن و ادا کی قسم [2]

1... شرح الزرقانی، المقصد الاول، وفاۃ عبداللہ، جلد:1، صفحہ:208 خلاصۃً۔

2... حدائقِ بخشش، صفحہ:80۔

وضاحت: اے بے مثله او بے مثاله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د کائنات خالق ستاسو اخلاق مبارک عظيم جوړ کړل او ستاسو نُوراني وجود رَبِّ کريم ښائسته جوړ کړے دے، اے د دواړو جهانو مالِکه! ستاسو د ښکلي صورت او بے مثاله سيرت پۀ خالِق باندې مې دې قَسَم وي! نۀ ستاسو پۀ شان څوک راغلي دي او نۀ به راشي-

د يتيم لفظ دوېمه معنیٰ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عربۍ پۀ لغت کښې د يتيم لفظ يوه معنیٰ **منفرد** او **يکتا[يواځنے]** هم راځي- مثلاً بے مثاله ملغلرې ته **دُرِّ يتيم** وئيلے کيږي- الله پاک فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝٦

(پاره:30، سورۀ الضحیٰ:6)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: آيا هغه تۀ يتيم وه نۀ موندلې بيا يې ځائے درکړو-

پۀ دې لحاظ سره به معنیٰ دا وي چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو ❁ پۀ خپل قوم کښې ❁ پۀ خپله قبيله کښې ❁ پۀ خپل ښار کښې بلکې ❁ پۀ ټولو مخلوقاتو کښې ځانګړے او بے مثاله وئ، ځکه الله پاک تاسو له ځان قربانوونکي صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم در عطا کړل او غلبه يې در عطا کړله- (1)

پۀ دې کښې اوس د صحابۀ کرامو عَليهمُ الرّضوَان د شان هم اِظهار دے ولې چې پۀ دې حالت کښې د لفظ **فَاٰوٰى** مِصداق صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم راځي- يعنې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ هر کمال کښې ځانګړے او بے مثاله وو، ځکه تاسو ته د ټولو نبيانو عَلَيهِمُ السَّلام د صحابيانو پۀ نسبت بے مثاله صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عطا کړے شول-

د کائنات د ټولو نه بهترين زړونه

پۀ مسندِ اِمام احمد کښې روايت دے، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

1... تفسير قرطبی، پاره:30، سورۀ ضحیٰ، زيرِ آيت:6، جلد:10، جز:20، صفحه:58۔

فرمائي: الله پاک د بندګانو د زړونو طرف ته نظر وفرمائيلو نو پۀ ټولو زړونو کښې بهترين زړۀ د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو، ځکه هغوئي رَبِّ رحمان د نبوت او رسالت د پاره منتخب کړو- بيا رَبِّ کريم د باقي نورو بندګانو د زړونو طرف ته نظر وفرمائيلو نو د صحابۀ کرامو [عَليهمُ الرّضوَان] زړونه پۀ ټولو بندګانو کښې بهترين وو، ځکه يې دوئي د نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خِدمت او پۀ دِين د قربان‌يدلو د پاره منتخب کړل- (1)

صدیق و عمر عثمان و علی اور ان کے سوا اَصحابِ نبی

قربان رہے آقا پہ سبھی کی خوب رَفاقت کیا کہنا(2)

هر صحابيِ نبي!	جَنَّتي جَنَّتي	°وا°صحابِيانه°هُم!	جَنَّتي جَنَّتي
°لوريارانِ دنبي!	جَنَّتي جَنَّتي	حضرتِ صديق هُم	جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم	جَنَّتي جَنَّتي	عُثمانِ غني	جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمه او علي	جَنَّتي جَنَّتي	دي حسن حُسين هُم	جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي	جَنَّتي جَنَّتي	هره بي‌بي دنبي	جَنَّتي جَنَّتي
دے مُعاوِيه هُم	جَنَّتي جَنَّتي	او ابُو سُفيان هُم	جَنَّتي جَنَّتي (3)

د ابو جهل جهالتونه

وليد بن مُغيره د مکے يو ډېر لوئي کافِر وو، يو ځل دے دربار رسالت ته راغلو، وه يې وئيل: که نبوت واقعي څه لوئي منصب دے نو د دې منصب لائق خو زۀ يم-

اوس لږ د دۀ بېوقوفۍ ته وګورئ چې دۀ د نبوت د منصب معيار څۀ ايښودے دے، وه يې وئيل: زۀ د نبوت ډېر حقدار يم، هغه څنګه؟ ځکه چې زۀ پۀ عمر کښې مشر يم او زما

1... مسند امام احمد، مسند المكثرين من الصحابة، مسند عبدالله بن مسعود، جلد:2، صفحه:484، حديث:3667۔

2... قبالۀ بخشش، صفحه:82۔

3... وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

سره مال هم دے- دغه شان ابو جَهل ووئيل: زۀ به د هٰغه وخته پورې اِيمان نۀ راوړم تر څو پورې چې زۀ هم نبي جوړ نۀ کړے شم- (1)

يعني دۀ وئيل غوښتل چې الله پاک نبي جوړولو نو د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِنتخاب يې ولې اوکړو، هغه خو هم زمونږ پۀ شان دے بلکې ❁ پۀ عمر کښې هم مونږ مشران يو ❁ پۀ مال کښې هم ښه يو ❁ سرداري هم زمونږ سره دي، ځکه د نبوت زيات حقدار خو مونږ وو، الله پاک پۀ دې باندې آيت مبارک نازل کړو، اِرشاد دے:

اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗؕ (پاره:8، سورۀ الانعام:124)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: الله پۀ دې پوهېږي چې هغه خپل رسالت چرته کېږدي-

مطلب دا دے چې اے اَبو جهله! اے وليد بن مُغِيره! تاسو بېوقوفان يـئ---!! نبوت ګسبِي نۀ دے چې د مال يا د اعمالو پۀ بدله کښې مېلاؤ شي، نبوت خو خاص د الله پاک عطيه ده، لکه څنګه چې ملغلره پۀ منګي يا متکا کښې نۀ ايښودلے کيږي، دې د پاره خاص قيمتي خزانه جوړولے کيږي، هم داسې د نبوت قيمتي ملغلره هم د کمالاتو والۀ ته عطا کولے کيږي او چا له چې نبوت ورکول وي، رَبِّ رحمان هم د شروع نه هغوئي د خاص کمالاتو سره پېدا کوي- (2)

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهري کمالات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اِمام فَخرُ الدِّين رَازِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دې لوئي عالمِ دِين دے، د قرآنِ کريم مفسر دے، هغوئي دې ټوله د کمال عِلمي نکته بيان کړې ده، **فرمائي:** (اګر چې نبوت ګسبِي نۀ دے، پۀ اعمالو نشي حاصلېدے، دا خاص د الله پاک اِنتخاب دے، البته) رَبِّ کريم

1... تفسير قرطبی، پاره:8، سورۀ انعام، زيرِ آيت:124، جلد:4، جز:7، صفحه:50۔

2... تفسير نعيمی، پاره:8، سورۀ انعام، زيرِ آيت:124، جلد:8، صفحه:84و85 خلاصةً۔

چې څوک د نبوت د پاره مُنتخب کوي، دا ضروري دي چې هغه په روحاني طاقتونو کښې هم او په جسماني طاقتونو کښې هم د خپل اُمت نه اَرفع او اعلیٰ وي، [1] ❁ انبیائے کرامو علَیہِمُ السَّلام له د لیدو طاقت هم د اُمت نه زیات ورکولے کیږي ❁ د اورېدو طاقت هم د ټولو نه زیات عطا کولے کیږي ❁ د څکولو طاقت ❁ د بوئي کولو طاقت ❁ د لاس وروړلو طاقت ❁ دغه شان عقل، فهم او فراست او ❁ د پوهې طاقت هم په هغوئي کښې د ټول اُمت نه زیات وي، بیا د دې سره سره د هغوئي رُوح هم د ټولو خلقو نه زیات پاک او صفا او لطیف وي-

اوس وګورئ چې ابو جهل وائي: نبوت ما ته مبلاؤېدل پکار وو- ولید بن مُغیره وائي: نبوت ما ته مبلاؤېدل پکار وو، عُمَیر ثَقَفي وائي: نبوت ما ته مبلاؤېدل پکار وو- الله پاک فرمائي:

اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَیْثُ یَجْعَلُ رِسَالَتَهٗؕ (پاره:8، سورۂ الانعام:124)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: الله په دې ډېرښه پوهېږي چې هغه خپل رسالت چرته کېږدي-

یعنې اے د نبوت طالبګارو--!! لږ خپل حالت ته خو وګورئ--!! زمونږ د خورږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ستاسو څۀ مقابله، د هغوئي شان دا دے چې ❁ سترګې پورته کړي نو عرش ویني، تاسو ته د دېوال نه بل اړخ ته څۀ په نظر نۀ راځي ❁ هغوئي چې توجه اوکړي نو د اسمان اوازونه اوري، تاسو دوه میله لرې اواز نۀ شئ اورېدے ❁ هغوئي چې خبرې کوي نو د حِکمت ګلونه دوړوي، ستاسو د خُلو نه د بکواسونو نه علاوه هیڅ نۀ ووځي ❁ هغوئي چې قدم پورته کړي نو د شپې په لږه شان حصه کښې د عرش نه بره پورې سفر کوي او واپس راځي، ستاسو شام ته په تللو دوه میاشتې لګي، بیا چې د هغوئي

1... تفسیر کبیر، پارہ:8، سورۂ انعام، زیرِ آیت:124، جلد:5، صفحہ:136، خلاصۃً۔

د پاک رُوح خبره اوکړے شي، د خوږ بنکلي زړۀ خبره اوکړے شي نو شان يې دا دے چې

غنچۂ باغِ وحدت پہ لاکھوں سلام

لهذا تاسو پۀ کومه خُله وئيلے شئ چې د نبوت حقداران مونږ يو، ستاسو خُلۀ څۀ خُلۀ ده---!! زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ❁ دُرِّ يتيم دے ❁ بے مثله دے ❁ بے مثاله دے ❁ ځانګړے دے ❁ کمالي دے-

سب سے اَولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی
سب سے بالا و والا ہمارا نبی

اپنے مولیٰ کا پیارا ہمارا نبی
دونوں عالَم کا دُولہا ہمارا نبی

سارے اُونچوں سے اُونچا سمجھئے جسے
ہے اس اونچے سے اونچا ہمارا نبی

خلق سے اَولیا اَولیا سے رُسل
اور رَسولوں سے اَعلیٰ ہمارا نبی

جس نے ٹکڑے کیے ہیں قمر کے وہ ہے
نُورِ وَحدت کا ٹکڑا ہمارا نبی

لامکاں تک اُجالا ہے جس کا وہ ہے
ہر مکاں کا اُجالا ہمارا نبی(1)

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جسماني کمالات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۪ۖ

(پاره:30، سورۃ الضحیٰ:6)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آيا هغه تۀ يتيم وه نۀ موندلي بيا يې ځائے درکړو-

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو پۀ ټوله زمانه کښې ځانګړے او بے مثاله يئ، اوس خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! څنګه ځانګړے دے، څنګه بے مثاله دے؟ يو څو روايتونه واورئ! ❁ سُلطانُ المُفَسِّرين، عظيم صحابي رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: لَمْ يَكُنْ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ظِلٌّ يعني د سراسر معجزه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود مبارک بالکل سورے نۀ وو، نبي کريم

1...حدائقِ بخشش، صفحه:140138 ملتقطاً۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د ډيوې مخې ته تشريف راوړلو نو د هغوئ نُور مبارک به د ډيوې پۀ رڼا باندې غالِب کېدلو او کله چې به يې د نمر مخې ته تشريف راوړلو نو د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور پۀ مخکښې به د نمر نُور هم تَت کېدلو۔ (1)

یہی منظور تھا قدرت کو کہ سایہ نہ بنے | ایسے یکتا کے لئے ایسی ہی یکتائی ہو (2)

❁ د مسلمانانو خورہ مور جانه حضرت عائِشه صِدِّيقه طَيِّبه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: د نُور والا آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله هم د دنګ قد والا سړو پۀ مينځ کښې روان وو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئ نه دنګ ښکاره کېدو خو د خېرانتيا خبره دا وه چې څنګه به د هغه دنګ قد والؤ نه جُدا شو نو د هغوئ قد مبارک به درميانه ښکاره کېدلو۔ (3)

ترا قد تو نادرِ دہر ہے کوئی مِثل ہو تو مِثال دے

نہیں گُل کے پودوں میں ڈالیاں کہ چمن میں سَروِ چَماں نہیں (4)

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو قد مبارک پۀ ټوله زمانه کښې يوه عجيبه تحفه ده، د دې که څۀ مثل وي نو مثال دې ورکړے شي، که پۀ چمن کښې د ګلاب د بوټو نېغې څانګې وي او که د سروې دګنه ونه وي هغه ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ناز او پۀ انداز د ګرځېدونکي ښکلي قد مثال نشي کېدے۔

د اسمان د چغيدو اواز يې واورېدلو

❁ **د حديثِ پاک پۀ مشهورو کتابونو تِرمذي، اِبنِ ماجه او مسند اِمام احمد کښې روايت دے:**

1...سبل الهدیٰ و الرشاد، باب العاشر فی صفة وجهه صَلَّى اللهُ عَلَيه وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:2، صفحه:40۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:205۔

3...خصائص الکبریٰ، باب الآیة فی طوله صَلَّى اللهُ عَلَيه وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحه:116۔

4...حدائقِ بخشش، صفحه:109۔

يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بے شکه زهٔ هٰغه څهٔ وينم کوم چې تاسو نهٔ شئ ليدلے، زهٔ هٰغه څهٔ اورم، کوم چې تاسو نهٔ شئ اورېدے- بے شکه اسمان وچغي‌دو او د هغهٔ حق دے چې هغه وچغ‌ېږي ځکه چې پهٔ اسمان کښې د 4 ګوتو همره ځائے هم داسې نشته، چرته چې يوه فرښته تندے نهٔ ږدي، د رَبِّ کريم پهٔ حُضُور کښې سجده نهٔ کوي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وړومبے خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال ته وګورئ چې زمکه خو لا زمکه ده، اسمان د زمکې نو څومره لوئي دے او سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ زمکه باندې اوسېږي او د اسمان مشاهده فرمائي او وګورئ چې څومره ژوره مشاهده ده چې د اسمان د 4 ګوتو همره حصه هم داسې نهٔ ده کومه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر نه پټه وي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ زمکه باندې ناست دے او ويني چې پهٔ اسمان باندې د 4 ګوتو همره ځائے هم خالي نشته چې چرته يو فرښته تندے کېږدي او د رَبِّ کريم پهٔ حُضُور کښې سجده نهٔ کوي-

بيا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اورېدو قوت ته هم وګورئ چې اسمان د دې ځائے نه پهٔ زرګونو کلومېټره لرې دے، زمونږ پهٔ شان عام اِنسانان خو پهٔ بله کمره کښې د ناستو خلقو اواز هم نهٔ اوري او د سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک غوږونه داسې دي چې پهٔ زمکه باندې ناست دے او پهٔ زرګونو کلومېټره لرې د اسمان د کړېپدو اواز هم اوري-

دُور و نزدیک کے سننے والے وہ کان | کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام (2)

1...ترمذی، کتاب الزہد، باب فی قول النبی: لو تعلمون ما اعلم، صفحہ: 554، حدیث: 2312۔

2...حدائقِ بخشش، صفحہ: 300۔

وضاحت: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غوږونو مبارکو دا معجزه ده چې ده چې د لرې او نزدې نه يو شان اوري، داسې مبارک غوږونه کوم چې د عزت او د عظمت د لعلونو سر چينه ده، په دغه مبارکو غوږونو باندې دې په لکونو سلامونه وي۔

❁ په **حديثِ پاک** کښې دي: خوږ آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما کوم اُمتي چې هم په ما باندې دُرود لولي هغه چې چرته هم وي، د هغۀ اواز ما ته رارسېږي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره عظيم الشان قوت سماعت دے--!! درودِ پاک لوستونکي درود وائي ❁ څوک يې په پاکستان کښې وائي ❁ څوک يې په تُرکِستان کښې ❁ څوک يې په بُخَارا کښې وائي ❁ څوک يې په سَمرقَند کښې ❁ څوک په امريکه کښې درود لولي ❁ څوک په افريقه کښې ❁ څوک په جاپان کښې ناست دے او د درود شريف نذرانې وړاندې کوي ❁ څوک په عراق کښې ❁ غرض دا چې په ټوله دُنيا کښې چې چرته هم مسلمانان عاشقانِ رسول دي، هغوئي درودِ پاک لولي، بيا دا يو دوه نۀ بلکې په زرګونو لکونو مسلمانان دي، **يو وخت هم داسې نۀ تېرېږي چې چرته پکښې دُرُودِ پاک نۀ وئيلے کيږي** ❁ ورځ وي او که شپه ❁ سحر وي او که ماښام ❁ ماسپښين وي او که نيمه شپه ❁ هر وخت په لکونو عاشقانِ رسول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې د درودونو نذرانې پيش کوي او رَبِّ کائنات د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو غوږونو ته دا شان عطا کړے دے چې هغوئي هر وخت د ټولو دُرُود اوري۔

والله! وہ سُن لیں گے، فریاد کو پہنچیں گے | اِتنا بھی تو ہو کوئی جو آہ کرے دِل سے (2)

وضاحت: څوک دې د زړۀ نه خو فرياد اوکړي، په الله پاک مې دې قَسَم وي! خوږ آقا، د

1... امتاع الاسماع، السادسة والثمانون من خصائصه...الخ، حديث ابی الدرداء، جلد:11، صفحه:65۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:143۔

مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرياد اوري هم او مدد به هم اوکړي۔

د نورو مبارکو اندامونو معجزې

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر معجزه ده۔ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُوئے مبارک [وېښتۀ مبارک] داسې بے مثاله او کمالي دي چې صدی تېرې شوې ❁ نن هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په دُنيا کښې د زرګونو عاشقانِ رسول سره صحيح او سلامت موجود دي ❁ نن هم د موئے مبارک په برکت سره شِفا نصيب کيږي ❁ د موئے مبارک په برکت سره مشکلات حل کيږي ❁ که د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو لاسونو خبره اوکړے شي! نو دا هٰغه مبارک لاسونه دي چې د دې په برکت شِفا نصيب کيږي۔ ❁ لاس مبارک چې د کوم يو څيز سره ولګي، هغې له ژوند ورکوي ❁ يو ځل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پيرياني ګس باندې لاس مبارک راښکلو نو د هغۀ شِفا نصيب شوه [1] ❁ د حضرت قتاده رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سترګه وتلې وه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو مبارکو لاسونو باندې د سترګو ګاټې په خپل ځائے کښېودو نو شِفا يې نصيب شوه [2] ❁ د حضرت عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ښپه ماته شوه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پرې لاس مبارک راښکلو نو ماته ښپه ټيک شوه [3] ❁ د غزوۀ بدر په موقع باندې د حضرت عُکاشه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ توره ماته شوه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو لاسونو مبارکو هغوئ له يوه څانګه ورکړه نو هغه سپينه پرقبدونکې توره جوړه شوه [4] ❁ يو ځل يې د حضرت بِشر بن معاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په سر باندې لاس راښکلو نو د هغوئ داسې

1... امتاع الاسماع، و امارد الرسول عين قتادة، جلد:11، صفحه:330 ملخصًا۔

2... امتاع الاسماع، و امارد الرسول عين قتادة، جلد:11، صفحه:330 ملخصًا۔

3... بخاری، کتاب المغازی، باب قتل ابی رافع عبد الله، صفحه:1015، حدیث:4039 ملتقطًا۔

4... جامع الاصول فی احادیث الرسول، عکاشه بن محصن، جلد:10، صفحه:443۔

حالت شو چې د کوم مريض سره به يې لاس لګېدلو، د هغۀ به هم شِفا نصيب کېدله [1] او ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وجود مبارک سره لاس ولګولو نو ټول عمر به د هغوئ د وجود نه تازه خوشبوئي تلله [2] ❁ دغه شان چې د خُلې مبارکې خبره اوکړے شي نو سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

وہ زباں جس کو سب کُن کی کنجی کہیں | اس کی نافِذ حکومت پہ لاکھوں سلام [3]

وضاحت: يعني زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه د تقديرِ اِلٰهی کُنجي ده- څنګه چې دا ژبه مبارکه خوږه ده، واقعي هم هٰغه شان کيږي- د دې ژبې مبارکې کمالونو ته چې وګورې نو وئيلے کيږي چې د کائنات ۀ ګوټ ګوټ د دې حکومت دے او ۀ داسې حکومت دې ۀ لکونو سلامونه وي-

❁ د خُلې مبارکې نه بس د خبرې وتل وي، څۀ چې به يې فرمائيل، هم هغه به کېدل- يو ځل د مسلمانانو څلورم خليفه عليُ المُرتضیٰ، شېرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! يخني مې کيږي- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه، **اے الله پاکه! علي د يخنۍ او ګرمۍ نۀ محفوظ کړي-** د دې دُعا نه پس د مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حالت داسې شو چې نۀ به د هغوئ يخني کېدله او نۀ ګرمي، هغوئ به ۀ يخنۍ کښې ګرمي جامې او ۀ ګرمۍ کښې يخې جامې اغوستلې- [4]

دغه شان که د نُوراني مخ خبره اوکړے شي نو:

دیکھنے والے کہا کرتے ہیں اللہ! اللہ! | یاد آتا ہے خُدا دیکھ کے صُورت تیری [5]

1...کنز العمال، کتاب الفضائل، فضائل الصحابة، جز:13، جلد:7، صفحه:130، حدیث:36856 ملخصًا۔

2...سبل الهدیٰ و الرشاد، باب التاسع فی عرقه صَلَّى اللهُ عَلَيه وَآلِهٖ وَسَلَّم و طيبه، جلد:2، صفحه:86 ملخصًا۔

3...حدائقِ بخشش، صفحه:302۔

4...ابن ماجه، کتاب السنة، باب فضل علی بن ابی طالب، صفحه:33، حدیث:117 بتغير قليل۔

5...ذوقِ نعت، صفحه:248۔

❁ بلکې دا خو د سراسر معجزه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود مبارک د اندامونو مبارکو معجزې دي ❁ که صرف د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم مبارک خبره اوکړے شي نو د مبارک نوم **مُحَمَّد** داسې داسې برکتونه دي چې واه! **سُبْحٰنَ الله!** د بني اِسرائيلو د 100 کالو ګنهګار چې د دې پاک نوم عزت اوکړو، دا يې ښکل کړو او د سترګو سره يې ولګولو، د رَبِّ کائنات دا ادا دومره خوښه شوه چې د هغۀ د 100 کالو ګناهونه يې معاف کړل او وه يې بخښلو [1] ❁ **د روايتونو مطابق** پۀ کوم کور کښې چې د مُحَمَّد نوم والا کس وي، پۀ هٰغه کور کښې به برکت وي [2] ❁ **پۀ يو حديثِ پاک کښې دي:** څوک چې زما پۀ محبت کښې، زما د نوم د برکت حاصلولو د پاره د خپل ځوي نوم مُحَمَّد کېږدي، هغه او د هغۀ ځوي به جَنَّت ته ځي- [3]

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دا دي زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري وجود مبارک کمالونه---!! چې د ظاهري وجود مبارک دا شان دے نو سوچ اوکړئ چې د رُوح مبارک کمالات به څۀ وي---؟ زمونږ پۀ شان د بے کارو عِلم خو د هٰغه محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روحاني کمالاتو ته هډو رسېدے نۀ شي---!! ❁ زما آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې اعلیٰ ❁ داسې اَرفع ❁ داسې نا اشنا ❁ داسې ځانګړے ❁ داسې بے مثاله ❁ داسې کمالي دے، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې ځانګړتيا بيانوي او الله پاک فرمائي:

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝٦ (پاره:30، سورۀ الضحیٰ:6)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: آيا هغه تۀ يتيم وه نۀ موندلې بيا يې ځائے درکړو-

---

1... حلية الاولياء، جلد:4، صفحه:45، حديث:4695 ملخصاً۔

2... شرح الزرقاني، مقصد الرابع، فصل الرابع ما اختص به صَلَّى اللهُ عَليه وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:7، صفحه:307۔

3... کنز العمال، کتاب النکاح، جز:16، جلد:8، صفحه:175، حديث:45215۔

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو پۀ ټول کائنات کښې ځانګړي او بے مثاله يـۓ، ځکه ❁ رَبِّ رحمان تاسو د ټولو جهانونو نبي جوړ کړي يـۓ ❁ د ټولو جهانونو د پاره يـې رحمت هم رالېږلي يـۓ او ❁ ځان قربانوونکي ❁ د ټولو اُمتونو نه ځانګړي او بے مثاله صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم هم ستاسو د خِدمت د پاره منتخب کړے شو!

منتخب آپ کی ذاتِ والا ہوئی — نامِ پاک آپ کا مصطفٰے ہو گیا
آپ وہ نورِ حق ہیں کہ قرآن میں — وصفِ رُخ آپ کا وَالضُّحٰی ہو گیا
ایسا اعزاز کس کو خدا نے دیا — جیسا بالا ترا مرتبہ ہو گیا[1]

الله پاک دې زمونږه د داسې بے مثله او بے مثاله نبي، رسولِ هاشمي، محبوب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ غلامی کښې ژوند کول، هم د هغوئي پۀ غلامی کښې مړه کېدل، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامی تاج پۀ سر د کېښودو سره د قيامت پۀ ورځ راپاڅېدل نصيب کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مَدَني قاعِده موبائل ايپلي کېشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کېشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده** (***Madani Qaida***) دے۔ پۀ دې ايپلي کېشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعني پۀ دې ايپلي کېشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پۀ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، پۀ آډيو (***Audio***) کښې به د هغې تَلَفُّظ چلېږي، داسې د دې ايپلي کېشن پۀ مرستې سره پۀ اسانی سره مَدَني قاعِده لوستل،

1 ... قبالۀ بخشش، صفحه:68 ملتقطًا۔

د دې مشق (*Practice*) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کېدے شي- دا ايپلي کېشن پۀ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: پۀ کور کښې د صدقې څيز ايښودل سپېرۀ ګڼل بد فالې ده-

وضاحت: پۀ عوامو کښې دا عام خيال موندلے کېږي چې د غوښې وغېره پۀ ذريعه يا د پېسو پۀ ذريعه چې کله صدقه ورکوي نو عام طور د کور بوډۍ ګانو زنانۀ ته وئيلے کيږي چې دا د صدقې څيز دے، ډېر وخت يې پۀ کور کښې مۀ ساتئ! چا له چې ورکول دي ور يې کړئ! ګڼې نو سپېرۀ والے به راځي- داسې پۀ کورونو کښې د صدقې واړه بکسونه ايښودے شوي وي، د هغې پۀ باره کښې هم بعضې وخت خيال راځي چې د صدقې پېسې پۀ کور کښې پرتې دي، د دې پۀ وجه به سپېرۀ والے راځي- دا صرف يوه غلط فهمي ده-

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د هرې ورځې يو سپېرۀ والے وي، هغه د صدقې پۀ ذريعه لرې کړئ! پس صدقه هٰغه عمل دے کوم چې د بلاګانو د اس‌بابو د جمع کېدو نه پس هم بلاګاني لرې کوي- [1] **معلومه شوه** چې صدقه سپېره والے زغلوونکے دے- د دې پۀ ذريعه برکتونه راځي، بلاګاني لرې کيږي- آؤ! چې صدقه اوکړے شوه نو هغه زر تر زره غريبانو وغېره له ورکول پکار دي، ناوخته کول پکښې نۀ دي پکار- دا د صدقې پۀ

1... کنز العمال، کتاب الاذکار، سورۃ سبأ، جلد:1، جز:2، صفحه:204، حديث:4556۔

آدابو کښې دي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

يَا قَهَّارُ (اے ډېر د غلبې والا---!!)

کله چې هم څۀ مصيبت راشي نو د الله پاک نوم مبارک **يَا قَهَّارُ** 100 کرته د لوستلو سره به **اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم!** هغه لرې شي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... مدنی پنج سوره، صفحه:248۔